# نفسياتي ژبپوهنه

## The Education of Psychological linguistics; A critical review

Nagina Bibi [1]

Dr Mohammad Sohail [2]

ABSTRACT

*Linguistic is a branch of Pashto literature that is widely different from the other branches. Specifically, this article focuses on psycholinguistics, which is not widely explored field of study. The psychological aspects related to learning and memorizing a language is studied in psycholinguistics. Psychology is not just the name of a subject of knowledge but it also has the ability to change the way of human life. After presenting the definitions and different concepts of psychology, this article concludes that psycholinguistics depends on the two aspects of psychology, i.e., consciousness and non-consciousness. The relationship between linguistics and psychology is based on such a fundamental principle that both branches are considered similar and acquisition of knowledge of psychology is indispensable for psycholinguistics. Psycholinguistics has beginning from Plato in the times before Christ, but regular writing started to appear in the 19th Century. The path of development of psycholinguistics is still open and new concepts will continue to evolve.*

---

[1] Lecturer, Department of Pashtu, Abdul Wali Khan University, Mardan

[2] Lecturer, Department of Education, AWKUM

د ژبپوهنې دغه پړلو يا څانګه هم مونږ ورته وئيلي شو۔ د نورو څانګو نه ئې که سل په سله نۀ وي خو توپير ئې ډېر دے۔ هسې خو د ژبپوهنې بلها ډېر قسمونه يا څانګې دي چې د هغوي په حوالې سره په پښتو کښې تر څۀ حده پورې کار شوے دے۔ ولې نفسياتي ژبپوهنه هغه څانګه ده چې فراخه نۀ ده متعارفې شوې- دَ انسان په حقله دا يوه معلومه خبره ده چې دے دَ نورو ساه لرونکو نه پۀ دې وجه ممتاز دے چې يؤ خو دے شعور لرې يعنې دَ اشياؤ ترمينځه فرق اؤ امتياز کولے شي نو بله خوا دے دَ خپل اظهار اؤ دَ نورو هم جنسو سره دَ خپلو ضرورياتو يا دَ تفريح دپاره دَ افهام اؤ تفهيم دَ ترسيل اؤ ابلاغ يؤ منظم لساني نظام لرې۔ هسې هم دَ ژبې اؤ انساني نفسياتو دَ رشتې اهميت پۀ هر دور کښې مسلم پاتې شوے دے خو ولې دَ کله نه چې دَ سماجي نفسياتو پۀ حقله مباحث شروع شوي نو دَ ژبې بحث پۀ کښې لازم راغلے دے۔ ولې چې دَ انساني نفسياتو ساخت هم هغه دے کوم چې دَ ژبې دے۔ دَ سوس ماهر لسانيات فرډيننډ سوشيور لساني نظريې راتلو سره دَ انسان دَ نفسياتو اؤ دَ ژبې رشته نوره هم کلکه شوه ځکه چې دَ سوشيور مطابق دَ دال/ سيګنيفائر تعلق نبغ پۀ نبغه دَ څيز سره نۀ وي بلکې دَ دال/ سيګنيفائر تعلق دَ يؤ څيز دَ هغه تصور سره وي کوم چې دَ هغه څيز پۀ حقله زمونږ ذهن کښې جوړ شوے وي۔ يعنې دَ لفظ کرسۍ تعلق براه راست دَ مادي کرسۍ سره نۀ دے بلکې دَ کرسۍ دَ تصور سره دے کوم چې زمونږ ذهن کښې دے۔ نو دلته دَ ژبې تعلق نور هم دَ نفسياتو سره وۀ تړلے شۀد شلمې صدۍ دَ لسانياتو کلهم مباحث دَ سوشيور پۀ ساختياتي نظريه ولاړ دي ځکه نو دَ ژبې اؤ نفسياتو پۀ حقله دَ يوې مضبوطې رشتې ښکارونه کوي۔

نفسيـاتــي ژبپـــوهنه

پس د دې نه چې مونږ نفسياتي ژبپوهنه باندې بحث وکړو ضروري ګڼم چې د اعصابي يا دماغي اؤ فردياتي ژبپوهنې پۀ حقله وېنا وړاندې شي شايد چې دې سره زمونږ موضوع لږه نوره هم اسانه شي۔ دَ دغه دواړو څانګو هم د نفسياتي ژبپوهنې سره کړۀ وړۀ نږدې دي۔ پۀ اعصابي لسانياتو کښې د دې خبرې زده کړه کېږي چې

پۀ اعصابو يعني دماغ کښې د ژبې نمائندګي پۀ کوم ډول کېږي دې حوالې سره د اېل اېس اې چې کومه مقاله شائع شوې ده پۀ هغې کښې هغه ليکي:

> "Neurolinguistics is the study of how is represented in the brain: that is, how and where our brains store our knowledge of language (or languages) that we speak, understand, read, and write, what happens in our brains as we acquire that knowledge, and what happens as we use it in our everyday lives. (1)"

> "ژباړه: دماغي ژبپوهنه کښې د دې خبرې مطالعه کېږي چې پۀ دماغو کښې د يوې ژبې نمائندګي پۀ کوم ډول کېږي: يعني زمونږ دماغ د ژبه يا (ژبې) زمونږ لوسته پوهه څنګه اؤ پۀ کومه طريقه محفوظ کوي د مثال پۀ توګه چې مونږ کومه وېنا يعني خبرې کوو، يا د نورو خلقو خبرو باندې ځان پوهه کوو، اؤ يا کوم ليک لوست چې کوو يا داسې چې زمونږ پۀ دماغ کښې کوم خيالات راځي د هر څۀ باندې ځان پوهه کوو اؤ حاصله وو ئې يا هغه پوهه اؤ هر څۀ چې زمونږ پۀ روزانه ژوند کښې کېږي يا پۀ مونږ څۀ تېرېږي۔"

ثابته شوه چې پۀ وجود کښې د ټولو نه اهم کردار د دماغو دے۔ دماغ د يؤ باچا حېثيت لري۔ د وجود يوه برخه هم بغېر د دماغو کار نۀ شي کولے۔ د هغې ثبوت هم دا دے چې که چرته دماغ اوټ اف کنټرول شي بيا هغه سمه اؤ پۀ صحيح ډول فيصله نۀ شي کولے چې هغه کس ته بيا مونږ لېونے وايو۔ بعضې وخت مونږ وينو چې پۀ لارو کوڅو کښې پۀ سخته يخنۍ کښې هم يؤ نيم کس بربنډ ګرځي ايا د هغۀ يخنۍ نۀ کېږي۔ چې بعيد د فکر نه باهر خبره ده- يا يؤ ماشوم چې اور هم پۀ لاس کښې نيسي نو د دې مطلب دا شو چې دلته پۀ دماغو کنټرول نشته۔

زما مطلب دا دے چې ژبه هغه کار کوي هغه خبرې پۀ خلۀ راوړي د کومو حکم چې ورته د دماغو نه ملاوېږي أؤ دغه د نفسياتي ژبپوهنې خاصه ده.

راځم فردياتي ژبپوهنه ته چې پۀ دې کښې د يو فرد جسماني آغاز او ارتقاء پۀ حوالې سره بحث ومباحثه کېږي او د دې خبرې جائزه پۀ کښې اخيستې شي چې ايا يو انسان د ماشومالي نه تر بلوغت أؤ بيا تر بوډاتوب پورې تر کومې مرحلو تېرېږي او د هغوي پۀ ژبه کښې څومره توپيرونه أؤ تغيرات راځي- ډاکټر رابعه سرفراز پۀ دې حواله ليکلي چې:

"لسانی فردیات میں بچے کی زبان سیکھنے کے عمل کا مطالعہ کیا جاتا ہے- بڑے ہونے پر انسان کی زبان میں ہونے والی تبدیلیوں کا مطالعہ لسانی تغیرات کے ذریعے کیا جا سکتا ہے- "(2)

ژباړه: پۀ فردياتي ژبپوهنه کښې ماشومان چې کومه ژبه زده کوي د هغه عمل لوستنه کېږي أؤ چې کله دغه ماشومان لوي شي بيا د دوي پۀ خبرو کښې چې کوم توپيرونه أؤ تغيرات مخې ته راغلي وي د هغوي جائزه پۀ تغيراتي ژبپوهنه کښې اخستې شي.

ماشوم چې تر څو د مور پۀ غېږ کښې وي نو هغه خبرې زده کوي. د وخت سره د مور غېږ نه رااوچت شي أؤ معاشره ته راوځي چې پۀ پخوانۍ زده کړې ئې کافي اثار پرېوځي او دغه رنګ تر څو چې ارتقائي عمل جاري وي پۀ خبرو کښې تغيرات کېږي نوي نوي توري زده کوي د نورو ژبو سره ئې واسطه راځي پۀ ذهن أؤ دماغ کښې ئې کښېني چې دې سره پۀ ژبه کښې يو نوے انداز مخې ته راځي أؤ د تغيراتو دغه انداز پۀ نفساني توګه سره ممکن دے څکه زۀ فريادتي ژبپوهنه د ژبپوهنې برخه ګڼم.

پۀ نفسياتي ژېپوهنه کښې د نفسياتي اړخونو لوستنه کېږي چې زيات تره تعلق ئې د يوې ژبې زده کولو اؤ بيا ياد ساتلو سره دے- انسان ته خدائے پاک ډېر لوے ياداشت ورکړے دے چې هغه پۀ دماغي صورت کښې موجود دے- يو انسان پۀ کروړونو نومونه اؤ شکلونه ياد ساتي۔ حتی چې غټ غټ کتابونه پۀ ياده وئيلے شي اؤ د هغې مثال مونږ سره د حفاظ کرام پۀ شکل کښې موجود دے چې يۀ حافظ ته مکمل قرآن سره د زور زېر او پېش ياد وي- خو که مونږ پۀ دې خبره ځان پوهه نۀ کړو چې نفسيات څۀ ته وائي نو پۀ دې ټاپک به بحث عبث وي۔

د نفسياتو پوهه محض د پوهې يوې موضوع نوم نۀ دے بلکې دا دَ انساني ژوند طرز طريقه بدلولو صلاحيت هم لري۔ خو دې له پاره به مونږ ته پۀ کار وي چې دا هر څۀ د نفسيات پۀ چشمو کښې وګورو۔ نفسيات هغه پوهه ده چې انساني ژوند ډېر ښکلے او ښائسته جوړه ولے شي- نفسيات پۀ ځو برخو د انساني ژوند پالنه کولے شي چې پۀ هغۀ کښې دا درې بنيادي څيزونه شامل دي چې هغې ته شعور، تخت شعور او لاشعور وئيلي شي۔ يۀ انسان د پېدا اوښت نه خپل مغزو اؤ د ذهن پۀ وسيله د خپل ژوند ژواک دومره کار ترسره کوي بل هر وخت هغه کارد هغۀ پۀ ذهن کښې بېدار وي حتی چې انسان کله اودۀ هم وي نوهغه وخت هم ددۀ ذهن پۀ کار کښې بوخت وي زۀ به دا اوويم چې پۀ يو وخت کښې هم ذهن نۀ اودۀ کېږي۔ رخشنده شهانه ليکي:

"ذہنی اعمال ہر وقت جاری و ساری رہتے ہیں۔ ہماری زندگی میں کوئی مقصد نہیں آتا حتٰی کہ نیند کی حالت میں بھی مصروف رہتا ہے۔ نیند کے دوران خواب دیکھنا اسکی مثال ہے۔ (3) "

"ژباړه نفسياتي عمل هر وخت جاري وي- زمونږ پۀ ژوند کښې کوم مقصد نۀ راځي حتی چې د اودۀ کېدو پۀ وخت کښې هم دغه پۀ خپل کار کښې بوخت وي- غټ مثال ئې د اودۀ کېدو پۀ وخت خواب ليدل دي۔"

انسان هغه څۀ پۀ خوب کښېويني چې پۀ ويښه پۀ هغۀ تېر شوي وي- دا ټوله د ذهن مصروفتيا ده چې د انسان پۀ دماغو کښې نقش د ه۔ ژبه يؤ سائنسي عمل دے چې غونډ تعلق ئې د وجود سره دے اؤ وجود پۀ خپله يو سائنسي څيز دے چې زيات پۀ يو عمل نۀ شته د ګړدې نړۍ چې څومره ذي روح څيزونه دي هر يو پۀ خپله حلقه کښې بند دي پۀ بناوټ کښې د بل نه هېڅ قسم توپير نۀ لري- البته د انسانو د وجود بناوټ خو يوشانتې دے خو پۀ شکلونو کښې توپير شته۔ پۀ شعور لا شعور کښې فرق لري او دغه څيز ته مونږ سائنسي عمل نۀ شو وئيلے نفسياتي ژبپوهنه چونکې د دغو دريو واړو د احاطې نه راغلې ده نو پۀ کار ده چې د ژبې پېژندګلو له پاره د دې پۀ چاڼ هم وړاند و کړو۔

شعور:

پۀ اسانه فهمه ژبه کښې شعور د خپل ځان اؤ د چاپېرچل نه ځان خبرول دي- پۀ انګرېزۍ ژبه کښې ورته consciousness وائي۔ البته نفسياتي تعارف ئې دې نه بدل دے۔ پۀ دې کښې شعور د عقل پۀ معنا راوړے شوے دے يا د عقل يؤ داسې کيفيت ورته وئيلے شوے دے چې پۀ دې کښې د ذاتيت، ذاتي سوچ فکر چې ورته فهم هم وئيلے شي، ملموسيه، هوښيارتوب اؤ پوهه رسول دغه ټول خصوصيات پۀ کښې موجود دي بل ئې پۀ مينځ کښې يؤ قسم ربط دے چې نفس ئې تړلے دے۔ دغو څيزونو انسان نه انسان جوړ کړے دے اؤ د حېوانتوب نه ئې بچ ساتلے دے۔ د هغۀ ژبه ئې سقوط کړې ده چې د وئيلو هر هغه پېغام ورکوي چې د يوې مهذبې معاشرې له پاره ضروري وي۔ شعور پۀ قرآن پاک کښې د عقل پۀ معنا کارولے شوے دے۔ دغه تورے پۀ قرآن پاک تقريباً پينځۀ ځلې کارولے شوے دے۔ دلته ئې محض د معنې وضاحت له پاره يو مثال وړاندې کوم:

"د فرغون مېرمن وئيل چې دا خو زما او ستا د سترګو يخوالي د پاره دے،
دے مه وژنئ ممکنه ده چې دے مونږ ته فائده راکړي يا دے مونږ د خپل زوے
په حېث واخلو خو دغو خلقو شعور نۀ لرلو- (4) "

په دې آيات کښې فرغون ته بې عقله وئيلے شوے دے. هر کله چې په صندوق کښې موسی (ع) اوبو د فرغون کور ته راوړو نو هغۀ غوښتل چې دغه ماشوم زۀ مړ کړم خو خدائے پاک د هغۀ مېرمنې په لاس د موسی (ع) حفاظت وکړو.

لاشعور:

بعض څېړنکار لاشعور د شعور ضد ګڼي. لا په معنا د «نۀ» ده. شعور که عقل شو نو شعور دا وائي چې لاشعور بې عقلي ده. البته لاشعور وضاحت به په ډول وي چې هغه خبرې چې زمونږ په دماغ کښې په يو ګوټ کښې پرتې وي خو يادې نۀ وي خو زمونږ هغه وخت په ياد کښې راشي کله چې د هغې په حوالې سره څۀ عمليات مخې ته راشي. په اصل کښې دې ته لاشعور وئيلے کېږي. بله دا چې هر کله مونږ په نفسياتي پوهه ورته وګورو نو بيا دې ته لاشعور وئيل سم نۀ دي بلکې په کار دي چې تحت شعور نوم ورکړې شي. دې سره مونږ په دې نتيجه هم رسو چې لاشعور او تحت شعور يوه څانګه ده.

د شعور او لاشعور تعريفونه وړاندې کولو نه پس دغه خبره په ډاګه شوه چې په نفسياتي ژبپوهنه کښې د تولو نه لوے دارو مدار هم د دغو دوؤ څانګو دے. چې د اغاز نه ئې ارتقائي عمل پېل شي او تر انجام پورې جاري وي. نفسياتي ژبپوهنې له پاره د نفسياتي پوهه حاصلول ضروري دي. ځکه چې د ژبې بنياد نفسياتي پوهه ده. په دغه ترس کښې دَ نفسياتي کيفيتونو د رجحاناتو او مېلاناتو خاکه په اسانۍ سره وړاندې کېدې شي.

ژبپوهني اؤ د نفسياتو تعلق پۀ يؤ داسي اساسي حېثيت ولاړ دے چې دواړه ځانګې د نفسي يعني ذهني پوهي شمارلي شوې دي. ذهني پوهه د يؤ انسان مختلف کارونه اؤ کيفيتونه پۀ نفسياتي او وضاحتي مطالعه لوستنه کښې خپل انجام ته رسول وي. پۀ دې دوران کښې د ذهن پۀ حوالې سره مختلف توپيرونه وړاندې کوي مختلف تغيرات مخې ته راځي بلکې يؤ پوهه ژبپوهاند خو د دغه قسمه رجحاناتو يا مېلاناتو چې د کومو ذهني کيفياتو لوازماتو او شرائطو سره واسطه وي د هغې خاکه هم وړاندې کولے شي. البته دا خبره ده چې بعض وخت پۀ کښې د نفسياتي پوهنې نه مرسته اخستل مشکل کښې شي نو پۀ کار ده چې بيا د نيم نفسياتي پوهنې نه مرسته واخستې شي. پۀ نفسياتي ژبپوهنه کښې دغه شانتې هئيتونه د نورې پوهې پۀ نسبت پۀ غېر ارادي يا غېر شعوري توګه مخې ته راځي. ځکه خو دغو رجحاناتو، مېلاناتو اؤ کيفيتونو له پاره نفسياتي پوهه حاصلول ضروري دي. نفسيات اؤ ژبپوهنه دواړه سائنسي پوهې دي چې د تجرباتو اؤ مشاهدتو نه راتبرېږي پۀ دغه مشاهداتو کښې يوه د نفس يعني مشاهده هم ده- دې حوالې سره پروفېسر خليل صديقي ليکي:

"نفسیات بھی لسانیات کے مستنبط نتائج کو کام لاتی ہے-جدید نفسیات میں علم کے ذرائع دو ہیں-ان میں سے ایک ہے مشاہدہ نفس کا تجزیہ،جو ان آلات کے ذریعہ کیا جاتاہے، جن میں ذہنی کیفیات کے طبیعی متعلقات کا اندراج ہوتاہے-اس طرح حاصل کی ہوئی معلومات ایک فرد کے ذہنی اعمال وکیفیات سے متعلق ہوتی ہیں-یہ اعمال ماضی کے تجربے دوسرے افراد کے ذہنی اعمال کے نتائج ہوتے ہیں-(5)"

"ژباړه: نفسيات هم د لسانياتو پۀ شانتې هغه نتائج راوړي کوم چې پۀ وړاندې رااوباسلي شوي وي. پۀ جديدو نفسياتو کښې دپوهې دوه ذريعې مخې ته راځي. چې پۀ هغۀ وړومبۍ د نفس يعني ذهن مشاهده ده، چې د هغه عواملو يا اوزارو ذريعه پۀ کښې کېږي، چې پۀ دې کښې د ذهني کيفياتو د طبيعي حالاتو يا متعلقاتو ادغام يعني شموليت موجود وي- دغه شانتې راخستې شوي معلومات

د يؤ سړي ذهني يعني نفسي عواملو اؤ كيفياتو متعلق كېږي- دغه عوامل د تېر مهال تجربې چې د نورو خلقو ذهني عواملو نتائج پۀ كښې وي "

ذهني مشاهده د خلقو د نفسيات نه كېږي ژوند د كوم وخت نه راروان دے اؤ تر كوم وخت پورې به قائم وي چې دواړه پۀ مغالطه كښې دي نۀ خو د تېر مهال مونږ ته سمه اندازه شته اؤ نۀ د راتلونكي مهال نه خبر يو۔ البته دومره وئيلے شو چې د نن نه لس كاله مخكښې هم پښتو ژبه ټيټ ژبه وه د ملاوټ نه زيات تره مخفوظه وه خو پۀ اوس مهال كښې چې د سائنس اؤ ټېكنالوجۍ دور دے محض پۀ پښتو كښې نه بلكې د نړۍ پۀ نورو ژبو كښې كافي توپير اؤ تغيرات راغلي دي چې سبب ئې نفسيات دي۔ ذهني ارتقاء ده۔ نو زما پۀ خيال نفسياتي ژبپوهنه د ژبپوهنې تولو څانګو اساس دے چې ورسره نږدې تعلق د سماجي ژبپوهنې دے۔ سماج معاشرې ته وائي چې وړاندې يا هم د سماجي ژبپوهنې لنډ شانتې تعارف شوے دے۔ البته دومره قدرې وئيل غواړم د انساني ذهن يعني نفس زيات تره ارتقاء اؤ نشوونما پۀ سماج كښې كېږي۔ چې د تولو نه لويه درسګاه ئې سماج ده۔ د ژوند ژواك ډېر څيزونه مونږ د سماج نه زده كوو۔ دې پۀ حوالې سره هاكن ايډوګن ليكلي دي:

> Sociolinguistics is concerned with the study of various dialects (both sociolects and regional dialects), vernaculars, genderlects (i.e. gender difference in understanding and using language), and some other ways of language use in social interactions. A definition offered by Radford and his colleagues (states that ʻʻ sociolinguistics is the study of the relationship between language use and the structure of society.ʼʼ (6)

"ژباړه: د ژبپوهنې تعلق د مختلفو لهجو سره دے چې پۀ هغه كښې (معاشرتي اؤ سيمېئزې لهجې يا دواړه) قسم لهجې خوا هغه صنفي ژبې وي يا د يوې مقامي ژبه وي، صنفي ژبه نه مراد دا دے

(چي يعني يوه ژبه پۀ پوهولو اؤ كارولو كښې صنفي توپير پۀ توګه كوي)، اؤ پۀ ژبه كښې چي كوم سماجي تعاملات دي د هغوي تعلق د طرز طريقې سره دے- د راډفورډ اؤد هغۀ ملګريو دغه تعارف داسې بيان کړے دے۔ سماجي ژبپوهنه د تعلقاتو پۀ مينځ كښې چي كومه ژبه كارېږي اؤ معاشرې چې ساحت دے هغې ته وئيلې کېږي"

معاشره چې د خلقو ټولنه ته وئيلې شي۔ پۀ ټولنيز ماحول كښې محض د خلقو راغونډېدل نۀ دي بلكې د ژوند ټول اسباب پوره كول دي۔ د ژوند تېرولو له پاره آئين يعني دستوره جوړول دي، د معاش پېدا كول دي اؤ دا هر څۀ تر يؤ وخت نه پۀ وړاندې راځي لكه څنګه چې ماشومان ژبه د خپلو اسلافو نه زده كوي- ماشومان كه پۀ پښتنانه معاشره كښې زوكړه وكړي نو هغه به پښتو وائي، د هغۀ ټول عادتونه به د پښتنو وي هر هغه څۀ به كوي چې كوم رسم ورواج ورته د خپل پلار نيكۀ نه پاتې شوے وي۔ نو دې نه اندازه اخستلے شو چې دا هر څۀ د ذهني ارتقاء پۀ سبب ممكن دي اؤ دغه نتيجه برقراره ساتلے شي۔ دغه ذهني ارتقاء محض د يؤ سړي نه نۀ بلكې د سماج نه ممكن وي اؤ د معاشرې نتيجه وي چې مثال ئې دا دے كه چرته يؤ هلك محض د مور سره لوے شي نو هغه به ټول عادتونه د مور كوى اؤ زنانه خوي بوي به پۀ كښې موجود وي۔ حتى چې خبرې به ئې زنانوؤ پۀ شانتې وي نو معلومه شوه چې پۀ نفسياتي ژبه كښې د سماج هم لويه برخه شته اؤ دا هر څۀ پۀ ذهنيت سره ممكن دي چې د نفسياتو له مخې وده كولے شي۔

نفسيات اؤ ژبپوهنه دواړه بشپړه سائنسي علم ذخيره لري۔ بل د دواړو پۀ خپل مينځ كښې ژورې اړيكې دي۔ نفسياتي پوهه د يؤ ماشوم د زېږدنې نه پېل شي اؤ تر مرګه پورې ئې ارتقائي عمل جاري وي۔ زۀ دې مباحثه كښې نۀ پربوځم چې هغه ماشوم تر كوم وخت نه تر كومې مودې پورې سره ذهنيت لري اؤ

ځومره علمي ذخیره جمع کولے شي۔ حالانکې دغه پوهه هم د نفسیاتي پوهې یوه اهمه برخه ده۔ بس محض دا وئیل غواړم چې پیدا شي نو د هغهٔ ذهني ارتقائي عمل پېل شي۔ دنیا ته د راتګ سره هغه خبره زده کړي چې د لوړې ختمولو له پاره د مور شیدې خوړل ضروري دي اؤ لوږه ختمولو د پاره د ژړا عمل ضروري دے۔ څو چې غټېږي د پوهې وساطت ئې زیاتېږي۔ پهٔ پېل کښې دغه وسعت زیات وي ورسته بیا ورو ورو پهٔ کمولو شي۔ لنډه دا چې نفسیات اؤ نفسیاتي ژبپوهنه مونږ د یؤ بل نه لرې کولے نهٔ شو- هغه بله خبره ده چې د نفسیاتي ژبپوهنې پېل خو پهٔ قبل مسیح کښې د افلاطون نه شوے دے خو باقاعده لائبرېرې پهٔ نولسمه پېړۍ کښې مخې ته راغلې ده چې تر اوسه ئې د پرمختګ لاره خلاصه ده اؤ نوې نوې خبرې پهٔ کښې مینځ ته راځي۔

## حوالې


1. Lise Menn, Neurolinguistics, LSA, 1924
2. اردو ریسرچ جرنال، ڈاکٹر رابعہ سرفراز: لسانیات، تعارف اوا ہمیت، ۱۰ اکتوبر ۲۰۱۸ء
3. رخشندہ شہناز، گل نواز بلوچ، غلام محی الدین، کاروان نفسیات، مکتبہ کاروان لاہور، ۲۰۰۸ء، ص: ۹-۸
4. القرآن، سورۃ الشعراء، آیت نمبر: ۲۰۲
5. خلیل صدیقی، پروفیسر، زبان کا مطالعہ، قلات سٹیشنرز، ۲۰۱۷ء، ص: ۱۹۷
6. Hakan Aydogan, Psychology of Language, 41 PUBLICATIONS 172 CITATIONS, Jan 2017, P: 30